مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۹/۲۹

# خراسان هیڅکله د افغانستان پخوانی نوم نه وو

د روان کال د سپتمبر د میاشتی پر اوومه سیدمخدوم رهین د « صفحه بین المللی سیاست افغانستان» له چلوونکي محترم ضرابي سره یوه نسبتاً اوږده مرکه درلوده؛ چي لومړی او مهمه موضوع یې د احمدشاه مسعود د قهرمانی او وطنپالني ثابتول او دوهمه موضوع یې د خراسان پر کلمه باندي بحث وو چي د ده په قول د افغانستان پخوانی نوم او یوه پراقتخاره کلمه ده.

زه یې له لومړی موضوع سره، چي څه باندي دېرش کلونه بحثونه وربانديې سوي دي، چنداني غرض نه لرم خو له دوهمی موضوع سره، چي ښاغلي رهین ادعا کوله چي خراسان یوه سیمه وه چي له امو د هندوستان تر سرحده رسېدله او په دې پراخه سیمه کي چی هر چا پاچهي کړې ده پایتخت یې پخپله د خراسان مرکز او پایتخت وو. د مثال په توګه د صفاریانو په وخت کی سیستان د خراسان مرکز وو، د سامانیانو په وخت کي بخارا، د غزنویانو په وخت کي غزني، د تېموریانو په وخت کي هرات او....

لومړی خو که د ښاغلي رهین دا بېځایه ادعا، د یوې شېبې لپاره، ورسره ومنو؛ پخپله ثابتوي چي خراسان سیاسی قلمرو نه بلکه یوه جغرافیایی محدوده وه چي، په بېلو بېلو وختونو کي یې، لس ېنځه لس پایتختونه لرلي دي. که څه هم چي دهغه دا ادعا په ذات کي پخپله د تأمل وړ ده. د مثال په توګه د صفاریانو په وخت کی د هغوی مرکز سیستان وو او خراسان یې، د یوه بېل قلمرو په حیث، هر وخت د توري په زور لاندي کاوه. د تاریخ سیستان دي متونو ته د رهین توجه را اړوم:

« ... و یعقوب به سیستان باز گشت سیزده روز مانده از جمادی الاولی سنه تسع و خمسین و مأتی و اندرین سال برف بسیار افتاد بسیستان چنانکه خرمابُنان خشک گشت. پس یعقوب روزگاری بسیستان ببود باز قصد خراسان کرد. و حفص بن زونک را بخلیفت خویش کرد بسیستان... » تاریخ سیستان ص ص ۲۱۸-۲۱۹

« چون بنشاپور قرار گرفت سالوکان (دزد و خونی و راهزن، حاشیه) خراسان جمع شدند و تدبیر کردند که این مردی صاحب قران خواهد بود و دولتی بزرگ دارد و مردی مردست و کسی برو برنیاید. ماراصواب آن باشد که بزینهار او رویم و بروزگار دولت او زندگانی همی کنیم.... و یعقوب ایشانرا بنواخت و خلعت داد و با خویشتن بسیستان آورد و فرمان داد تا سرعبدالرحیم که اورا کشته بودند خوارج، برگرفتند و بیاوردند...» هغه کتاب ص ص ۲۲۴-۲۲۵

« و خبر وفات او بسیستان روز یکشنبه دوازده روز مانده از شوال سنه خمس و ستین و مأتی رسید. و هفده سال و نه ماه امیری کرد و خراسان و سیستان و کابل و سند و هند و فارس و کرمان همه عمّال وی بودند ...» هغه کتاب ص ۲۳۳

په تاریخ سیستان کي له دغه راز ډېرو زیاتو عباراتو سره مخامخ کېږو چي په څرګنده له سیستان څخه خراسان بېلوي او دواړی جلا جلا جغرافیایی سیمي بولي. په وروسته کي به موږ وښیو چي په خراسان کي کله کله ډېري پراخي سیمي او کله کله حتی هغه سیمي چي زیاتره وختونه د خراسان څخه نه بېلېدونکي مځکي او ښارونه ګڼل سوي دي، جلا دي.

د ښاغلي رهین دا ادعا د ژور تأمل وړ ده چي وایي سامانیان د خراسان پاچاهان ول او مر کز یې بخارا وه. د تاریخ بخارا له متونو څخه په څرګنده ښکاري چي ماوراءالنهر، چی سامانیانو سلطنت پکښي کاوه، او خراسان بېلي سیمي دي. د اسمعیل بن احمد ساماني، چي په ماورألنهر کی یې پاچهي کوله او د سلطنت مرکز یې بخاراوو، په باره کي لولو: « و میان امیراسمعیل و رافع بن هرثمه، که بدان تاریخ امیر خراسان بود، دوستی بود. امیر اسمعیل به وی نامه کرد و از وی یاری خواست... » نرشخی،تاریخ بخارا ص ۱۱۴

او کله چي اسمعیل ساماني عمرولیث ته وروستی ماته ورکوي او هغه د عباسي خلیفه دربار ته لاس تړلی لېږي نو عباسي خلیفه المعتضد بالله، د اسمعیل ساماني د دې خدمت په بدل کي، هغه ته د خراسان د قلمرو منشور ورکوي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

« و چون امیراسمعیل عمرولیث را نزدیک خلیفه فرستاد، خلیفه منشور خرسان به وی فرستاد و از عقیبه حلوان وولایت خراسان و ماورألنهر و ترکستان و سند و هند و گرگان همه اورا شد. و بر هر شهری امیری نصب کرد و آثار عدل و سیرت خوب ظاهرکرد...» هغه کتاب ص ۱۲۷
په تاریخ بخارا کې چې هر ځل د خراسان یادونه سوې ده هغه د سامانیانو له رسمي قلمرو ماورألنهر څخه، چې مرکز یې بخاراوو، جلا حیثیت لري او د ښاغلي رهین دا ادعا ردوي چې ګویا دا سیمه یو وخت ټول خراسان بلل کېدې او مرکزونه یې له یوه ځایه بل ته انتقالېدل.
د هرات ښار، چې په تقریباً ټولو کلاسیکو متونو کې د خراسان مرکز او تر ټولو مهم ښار بلل سوی دی:
همچو بحراست این جهان در وی خراسان چون صدف
در میان آن صدف شهر هری چون گوهری ( تاریخنامه هرات ص ۶)
مګر د رهین د ادعا په خلاف، چې وایي افغانستان د احمدشاه بابا له زماني څخه د شاه زمان تر وخته پوري خراسان بلل کېدی، احمدشاه بابا هم خپل قلمرو او هم خراسان پېژندی او د هغه په دربار کې د تاریخ احمدشاهی لیکوال محمودالحسینی المنشي په خپل کتاب تاریخ احمدشاهي کې تر پنځوس ځله زیات د خراسان نوم اخلي او په ځرګنده توګه ښیي چې مطلب یې افغانستان نه بلکه د ایران خاوره ده: « چون داعیه تسخیر خراسان و سفر دور ودراز ممالک ایران پیشنهاد خاطر الهام ماثر خدیو کیهان بود. شهزاده قمر طلعت خورشید شوکت فریدون مکنت جمشید لوا نواب کامیاب فلک جناب سپهر انتساب تیمور میر زا را به نیابت سلطنت تعیین و اختیار نصب و عزل سرداران و بیګلربیګیان و غیره را به کف اقتدار آن فرزند جوهر خردمندي تفویض نموده...» تاریخ احمدشاهی ص ۱۷۰
بل ځای لیکي: « چون انتظام کارګاه جهان وابسته به اراده و مشیت خالق انس و جان است مرقوم رقم چنان بود که مملکت خراسان روزی چند جولانګاه توسن اوباش بوده کارش از نظام افتد و باز به یمن توجه فرماندهی والاهمم و پادشاهی معدلت شیم به زیور حسن تعمیر آراسته و از خس و خاشاک اشرار مصفا ګشته به حالت آبادی ګراید...» هغه کتاب ص ۱۷۲
او احمدشاه باباحتی هرات، چې په اکثرو جغرافیو کې د خراسان تر ټولو مهم ښار بلل سوی دی، په خراسان کې شامل نه باله او هغه یې خپل ابایي ملک باله. که د احمدشاه بابا نور لیکونه موجود وي زه اطلاع نه لرم خو له هغه لیک څخه یې چې د عثمانی خلیفه سلطان مصطفی ثالث ۱۷۵۷-۱۷۷۴ په عنوان یې لېږلی او د خپلو فتوحاتو په باره کې یې معلومات ورکړي دي دا مطلب په ځرګنده توګه معلوم دی. احمدشاه بابا د پنجاب، ملتان او کشمیر له فتح کولو او په هغو ځایونو او مرکزونو کې د خپل حکامو له مقررولو څخه وروسته د دارالقرار قندهار پر لور حرکت کوي او لیکي: « و ازآنجا باقتضای رای صواب نما تسخیر مملکت خراسان و تنبیه اشرار و مفسدان الکای فسحت نشان الی اقصای ممالک ایران پیشنهاد عزیمت ګردید» نامه احمدشاه ابدالي به عنوان خلیفه عثمانی مصطفی ثالث ص ۲۲
احمدشاه بابا د خراسان د فتح کولو په لاره کې لومړی د هرات ښار محاصره کوي او د هرات له فتح کولو څخه وروسته، چې محاصرې یې دري میاشتي دوام درلود، لیکي:
و توپخانه بسیار و دیګر اسباب حرب و پیکار بیرون از حصر و شمار بضبط امنای سرکار درآمد و آن مملکت موروث که پایتخت ریاست و حکومت والد ماجد و اعمام ګرام و برادران عالیمقام( انارالله برهانهم) بود بفضل و تایید پروردګار از تصرف اضداد و اغیار برآمد حق بمرکز قرار و دولت بجای خود استقرار ګرفت. هغه مأخذ ص ص ۲۶-۲۷
احمدشاه بابا پوهېدی چې کومی سیمي ته خراسان او کومي سیمي ته خپل قلمرو، چې مرکز یې دارالقرار قندهار وو، ووایي. کله چې احمدشاه بابا مشهد ونیوی او د نادرشاه افشار لمسی شاهرخ میرزایی، چې مخالفینو په سترګو ړوند کړی وو، بیرته د مشهد پر تخت کښېناوه او هغو کسانو ته یې عفو وکړه چې د مشهد د محاصرې په وخت کې د احمدشاه بابا له لښکرو سره جنګېدلی ول نو احمدشاه بابا خپل هیواد ته د ستنېدلو اراده وکړه. احمدشاه بابا لیکي:
« روسای اکابر ارض اقدس بلکه تمامی اهالی خراسان در ازای این عواطف نمایان زبان شکر و ثنا ګلریزان ساخته و حلقه اطاعت و انقیاد در ګوش جان انداخته مسرور و کامران آسوده در مهاد امن و امان نشستند. بعد از انفراغ این امور انتهاض ابویه منصور بدارالقرار قندهار شد» نامه احمدشاه ابدالي ص ص ۳۶-۳۷
له داسي کره سند او د احمدشاه بابا د خپل لیک له لیدلو او لوستلو څخه وروسته به سړی د رهین د دې ادعا په باب څه ووایی چې احمدشاه بابا خپل قلمرو خراسان باله او یا د خراسان پاچا وو او مرکز یې قندهار ټاکلی وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

رهين ادعا کوي چي افغانستان يوازينی هيواد دی چي په تاريخ کي هغه خراسان بلل سوی دی او وروسته وايي چي د تيمورشاه او شاه زمان په وخت کي هم دا هيواد خرسان بلل کېدی او د شاه زمان د سلطنت د پای ته رسېدلو او د هغه د ړندېدلو څخه وروسته د خراسان نوم د انګرېزانو او قاجاريانو د دسيسو په اثر له منځه ولاړ!!

لومړی خو کله چي احمدشاه بابا خراسان پېژندی او هغه خاوره يي حتی له هرات څخه هاخواته سيمی بللي نو تيمورشاه، چي د احمدشاه بابا زوی وو، څرنګه يي خپل هيواد بيرته خراسان بللی دی؟ او له بلي خوا، که نور هيڅ نه وي، د جورج فورسټر George Forster په سفرنامه کي، چي د تيمورشاه په زمانه کي له ۱۷۸۲ څخه تر ۱۷۸۴ پوری يي افغانستان او سيمی ته سفر کړيدی په څرګنده ښکاري چي د ا هيواد افغانستان بلل کېدی او په بهر کي، په تېره بيا ګاونډي هيواد هند کي، په دغه نامه پېژندل سوی وو. فورسټر ليکي: « پېښور، د يوه تجارتي ځنځير په وسيله، ايران، افغانستان او هند سره وصلوي او ځکه يي د يوه مهم تجارتي مرکز حيثيت غوره کړی دی... » Forster, A Journey from Bengal to England Vol2 P 50

بل ځای ليکي: « کله چي د تيمور له وفات سره، د هغه ستره امپراطوري ډېر ژر ټوټي ټوټي سوه او په نتيجه کي په افغانستان کي د ترکانو د حکومت اثر پاته نه سو نو سړی ويلای سي چي دغه سيمه د بابر تر زماني ۱۵۰۶ پوري د محلی مشرانو له خوا اداره کېدله...» Ibid P 76

بل ځای ليکي: « بازارونه او عمومي دوکانونه يوازی د ايران او افغانستان په مهمو ښارونو کي ليدل کېږي. مسافر مجبور دي چي د کورونو د ښځتنانو څخه خوراکي مواد وغواړی او هغوی هم زياتره چنداني مرسته نه سي کولای...» Ibid P 142

سړی نه پوهيږي چي ښاغلي رهين ته بل کوم سند او دليل وړاندي کړي چي د درانيانو په پاچهي کي نه يوازي افغانستان ته خراسان نه ويل کېدی او درانی پاچاهان پوهېدل چي کومه سيمه خراسان وبولي بلکه د افغانستان نوم په ګاونډيو هيوادونو او لا ښايي په لندن کي، چي فورسټر له هغه ځايه راغلی وو، عموميت پيدا کړی وو.

که څه هم چي ما د خراسان د جغرافيايی مفهوم او په مختلفو وختونو کي د دغي تاريخي سيمي د سرحداتو، مناطقو او ښارونو د تغيير په باره کي، څو کاله مخکي مضمون ليکلی وو؛ خو اوس به د هغو لوستونکو د معلوماتو لپاره چي زما هغه مضمون يي ښايی نه وی لوستی يوه برخه بيرته تکرار کړم.

خراسان او آريانا:

مرحوم احمد علي کهزاد« افغانستان در شاهنامه» کتاب له خپل وطن افغانستان سره د ژوري ميني په اساس ليکلی او په حقيقت کي ډېر ژور او د قدر وړ تحقيق دی؛ البته دا ادعا يي د تأمل وړ ده چي وايي زموږ مملکت، چي په معاصر تاريخ کي افغانستان نوميږي، په اسلامي دوره کي خراسان او د اسلام څخه مخکي قديمو زمانو کي د آريانا په نوم يادېدی. په داسي حال کي چي آريانا او خراسان دواړه جغرافيايی نومونه او مفهومونه دي او پر کوم سياسي قلمرو باندي نه اطلاقيږي. آريانا يوې منطقي ته ويل کېدله چي کله کله به افغانستان پکښي شامل وو او خراسان هم يوه منطقه وه چي د اوسني افغانستان ډيري برخي پکښی شاملي وې.

د انټرنيټ د تعريف په اساس، آريانا د يوې سيمي د معرفي کولو لپاره يوه عمومي جغرافيايي اصطلاح وه چي ځينو پخوانيو يوناني او رومي ليکوالانو د يوې پراخي سيمي د پاره چي د مرکزي اسيا او اندوس د رود ترمنځ پرته وه استعمالوله. په دې کي د هخامنشيانو د عصر د امپراطوری ختيځ ايالتونه چي په هغه کي ټول اوسنی افغانستان او د ايران ختيځي سيمي د اندوس تر سيند او پاکستان پوري شامل وه آريانا بلل کېدله. مرحوم عبدالحی حبيبي يي، د ويدي سرودونو په حواله، آرياناويجه بولي چي وايی اويجه اوس هم په پښتو کي د سيمي او آرامګاه په معنی استعماليږی. حبيبي د تاريخ پوهانو په حواله وايي چي آرياناويجه د پامير يا د خوارزم د سيمي شاوخوا او د خزر درياب ځنډي په برکي نيولي. حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان ص ۸

پخپله مرحوم کهزاد هم د آريانا د حدودو په برخه کي وايي چي د ختيځ لوري سرحد يي اندوس، جنوبي حد يي د هند سمندر، شمالي خط يي د پاروپاميزوس د غرونو سلسله او يوه سلسله نور کوهستانونه وو چي د هند له شمال نه د خزر تر بندره پوري يي اوږدوالی درلود. د دې خاوري لمرپرېواته برخه په هغه خط سره ټاکله کېدله چي پارتيا يي له مديانه او کرمان يي له فارس او پاره تاکنه نه جدا کاوه. کهزاد، د افغانستان پخوانی تاريخ لومړی جلد ص ۵۵

هندي مورخين دا سيمه آريانا ورته بولي او وايي چي د پامير له لمنو څخه نيولي، د هند تر شمالي سيمو او بيا د هند د دکن تر شاوخوا پوري سيمي ته ويل کېدله. آرياناويجه، آرياناورشه، اريانا‌ورته يا اريانا چي په هر نامه واخلو د تاريخ په اوږدو کي يي تغييرات ميندلي دي. د ټاکلي او مشخص هيواد په حيث نه بلکه د سيمي په حيث په يوه وخت کي پراخه سوې او په بل وخت کي وړه سوې ده. اريانا هيڅ وخت سياسي قلمرو نه بلکه يوه پراخه جغرافيايي سيمه وه چي اوسنی افغانستان به يې کله کله يوه برخه ګڼله کېدله. پخپله افغانستان ته هيڅ وخت اريانا يا ارياناورته نه دی ويل سوی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولـئ

د غسي هم خراسان، چي په مطلع الشمس، آفتاب برآمد، او لمرخاته ترجمه سوی دی هيڅ وخت د افغانستان نوم نه وو بلکه د افغانستان ځيني سيمي يا ډيري سيمي هر وخت په خراسان کي شاملي وې. طوس، هرات، نيشاپور او بادغيس هر وخت د خراسان مهم ښارونه ول او هرات هر وخت د خراسان تر ټولو مهم ستراتيژيک او حاصل خيزه ښاروو. مګر حدود يې هر وخت په تغيير کي وه. حدودالعالم وايی چي خراسان يوه ناحيه ده چي مشرق ته يې هندوستان دی جنوب ته يې د خراسان ځيني حدود دي مغرب ته يې د ګرګان علاقي او د غور حدود دي او شمال ته يې د آمو سيند دی. وروسته وايي چي د خراسان او ماوراءالنهر پاچهی پخوا بېلي وې مګر اوس يوه پاچهي ده او د خراسان پاچا په بخارا کي کښيني او د سامانيانو زال دی چي د بهرام چوبين له اولادي څخه دی. ص ۳۸۶

موږ ګورو چي خراسان هم، چي د افغانستان مهم ښار هرات يې يو مهم مرکز وو، کله لوی او کله وړوکی کېدی. کله به له بغداد، کله به له هرات، کله به له ماوراءالنهر، سيستان او غزني څخه اداره کېدی.

وروسته ګورو چي حدودالعالم د همدغه خراسان په ښارونو کي تر هر يوه مخکي غور يادوي ورپسي سيستان، فراه، بُست، زمين داور، غزني، کابل، پروان، بدخشان د خراسان په ښارونو کي يادوي او د طوس، هرات، بادغيس، نيشاپور او مرو په څېر مهم ښارونه، چي هر وخت په خراسان کي شامل دي نه يادوي. ص ص ۳۹۲-۳۹۳

همدغه بُست، چي مخکي د خراسان په ښارونو کي يادوي، وروسته يې په همدغه مخ کي د هندوستان په خاوره کي بولي او وايي چي د هيلمند د سيند پر غاړه پروت دی، محکمه قلا لري، ډېري ناحيي او کلي لري او د تاجرانو ځای دی. ص ۳۹۲

بل ځای ليکي« غزنين او له هغه سره تړلي ښارونه د خلُج په نوم ترکانو ځای دی او دغه خلخ نومي ترکان ډېر زيات پسونه لري او کوچيان دي او دغه د خلخ ترکان د بلخ، تخارستان ، بُست او ګوزګانان په شاوخوا کي هم زيات دي مګر غزنين او له هغه سره تړلي ښارګوټي د زابلستان برخي ګڼلي کيږي. پروان له نعمتونو ډک ښار دی، تاجران لري او په هندوستان کي دی» ص ۳۹۳

په همدغه مخ کي د کابل په باب ليکي چي هغه يو ښارګوټی دی چي ډېره ټينګه قلا لري. مسلمانان او هندوان دواړه ژوند پکښی کوي. په دې ښار کي ډيري بتخاني دي او د قنوج راجا تر هغه وخته ځان پاچا نه بولي چي د دغه ښار د بتخاني زيارت يې نه وي کړی او د خپلي پاچهی بيرغ له همدغه ښار څخه پورته کوي. هغه ځای.

په احسن التقاسيم کي يې پوشنج، بادغيس، غرجستان، مرورود، تخارستان، باميان، طوس، بلخ، غزنين، والشتان، مستونګ، شال، بست، هرات، جوزجان، مروشاه جهان، نيشاپور، بدخشان او ځيني نور ښارونه په خراسان کي ياد کړي دي، چي اکثر يې په اوسني افغانستان کي شامل دي مقدسي ص ص ۴۳۰-۴۳۱

اصطخری په مسالک و ممالک نومي کتاب کي، تقريبا همدغه سيمي د خراسان په حدودو کي راوړي او وايی چي د خراسان شرق ته سيستان او هندوستان پراته دي ځکه چي موږ غور، د خلج علاقه او د کابل شاوخوا ټول د هندوستان برخه وشمېرله. اصطخري ص ۲۰۲

په داسي حال کي چي د پخوانيو جغرافيو ډېر زيات کتابونه او آثار کابل د خراسان يو مهم ښار بولي؛ مګر ادريسي د چين، خراسان او سند سره د کابل د نيل، چي وايی کيفيت يې ډېر عالي او مشهور دی، او د پنبه څخه توليد سويو نخي ټوکرانو د صادراتو خبري کوي. ايليټ ايند ډاوسن لومړی ټوک ص ۹۲

اصطخري نور تقريبا ټول هغه ښارونه په خراسان کي يادوي چي په حدودالعالم او احسن التقاسيم کي راغلي دي، مګر دا څلور واړه ياد سوي کتابونه او د جغرافيي نور کلاسيک کتابونه خراسان د اقليم په نامه يادوي. موږ په هيڅ توګه پر هغه باندي د افغانستان او د بل هيواد نوم اطلاقولای نه سو، بلکه يوازي دونه ويلای سو چي دا سيمي اکثر په اوسني افغانستان کي شاملي وې نه دا چي د افغانستان پخوانی نوم خراسان يا آريانا وو. له بلي خوا ټول هغه کتابونه چي موږ ته د خراسان په باب معلومات راکوي دونه مغشوش دي چي سړی نه پوهيږي کومه سيمه او کوم ښارونه د خراسان وبولي. ځکه چي که د ادريسي دا قول چي وايي کابل له چين، سيند او خراسان سره د نيل او پنبه اي ټوکرانو تجارت لري جدي ونيسو نو دا به څرنګه معلومو چي خراسان د کابل کومي خواته او په څونه پراخوالي پروت دی. او که کابل په خراسان کي نه وي او له خراسان سره تجارت ولري نو افغانستان به څرنګه خراسان بولو.کابل خو دلته ځکه په خراسان کي نه راځي چي ادريسي وايي له خراسان سره تجارت کوي. او که د حدودالعالم په قول، بُست او پروان په هندوستان کي وبولو نو بيا به خراسان کوم ځای ته وايو.

په انسايکلوپيډيا آف اسلام کي هم د خُراسان معرفي په داسي توګه سوې ده چي خاصي سيمي ته اشاره نه کوي بلکه وايي چي د اسلام په لومړنيو پېړيو کي د کسپين د بحيرې له جنوبي څنډو څخه تر نيشاپور، مرو، د پخواني شوروي اتحاد د مرکزي اسيا هيوادونه ان تر اندوس او سيند پوري سيمي شاملي وې. په دې توګه سړی په مشخصه توګه هيڅ هيواد د خراسان نامه ته نه سي منسوبولای؛ بلکه د افغانستان په شاوخوا کي ډېرو پرتو هيوادونو لړې او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

ډیري سیمي په خراسان کي، چي اوس د یوې پراخي سیمي په حیث وجود نه لري، او د ایران د یوه ولایت نوم دی، شاملي وې.
دغه راز، په اته لسمه پېړی کي د لوی احمدشاه بابا له خوا، د افغانستان له تاسیسېدلو څخه مخکي د افغانستان نوم هم دغه ته ورته مغشوش حالت لري.حتی د لومړي ځل لپاره چي په تاریخ نامه هرات کي د افغانستان نوم یاد سوی دی، مطلب یي دغه اوسنی افغانستان نه بلکه بېخي بېله سیمه ده چي هغه اوس د پاکستان د خیبرپښتونخوا په قلمرو کي شامله ده. د تاریخنامه هرات په نوم کتاب، چي سیف بن محمدبن یعقوب الهروي له نن څخه تقریبا اته سوه کاله مخکي لیکلی دی، لومړنی اثر دی چي تر ښل ځله زیات د افغانستان یادونه کوي. په دې کتاب کي د هرات د پاچا شمس الدین کرت، چي د غوریانو له نسله وو، او د افغانانو د قهرمانانو ملک المار، شعیب افغان او سندان تر منځ د جنګونو تاریخ راغلی دی. د المارافغان سره د ملک شمس الدین کرت د جنګ په باره کي راغلي دي چي دې جنګ نهه پنځوس ورځي دوام وکړ. شمس الدین کرت د تیري قلا په جنګ ونیوله او امر یي وکړ چي المار دوه ځایه کړي یعني عذاب کشه یي کړي. شمس الدین کرت د افغانانو د ځېلو او وژلو څخه وروسته له افغانستان څخه بریالی تکیناباد ته راغی او ملک عزالدین تولک او مبارزالدین محمدنهي یي له دریو زرو عسکرو سره په تکیناباد کي پرېښودل. هروي ص ۲۰۷
سیف هروي، څو څو ځله، په افغانستان کي د افغانانو او ملک شمس الدین کرت ترمنځ د جنګونو یادونه کوي. مګر که تکیناباد، چي پنجوایي یي یو مهم ښار ښودل سوی دی او مرحوم عبدالحی حبیبي یي کندهار یا د کندهار علاقه بولي، په افغانستان کي شامل نه وي او ملک شمس الدین له افغانستان څخه تکیناباد ته راغي نو دا افغانستان کوم ځای ته ویل کیږي؟ د سیف هروي افغانستان اوسنی افغانستان نه وو بلکه د افغانانو ټاټوبي ته، چي د ټولو مورخینو په اتفاق، د سلیمان د غرو لمني وې، افغانستان ویل کیدی. همدغه سیمه ده چي د « روه » په نوم یادیږي او له کابل او ننګرهار څخه، چي کله لا کندهار هم ورسره یاد سوی دی، تر اباسین پوري پروت دی. د اوسني افغانستان تیره، د اته لسمي پېړۍ په نیمایی کي، لوی احمدشاه بابا کښېښودله، چي له مشهد او نیشاپور څخه تر کشمیر، ډهلي او سیند پوري پراخ وو، مګر افغانستان، د افغانانو د ټاټوبي په حیث، له هغه څخه څه باندي شپږ سوه کاله مخکي موجود وو او افغانانو د نن په څېر په زړه ورتوب او سرښندنو دفاع ورڅخه کوله.
دغه راز ضیاءالدین برني، د څوارلسمي پېړۍ په سر کي، په ملتان کي، د ډهلی د سلطان محمد تغلق په مقابل کي د شاهو افغان د ښورش یادونه کوي او وایي چي سلطان محمد د شاهو افغان د ښورش د کرارولو لپاره روان سو او ملتان ته نه وو رسېدلی چي شاهو هغه ته عریضه واستوله او ورته ویي لیکل چي له ښورش څخه یي لاس اخیستی او د سلطان اطاعت یي منلی دی. شاهو ملتان پرېښود او له خپلو افغانانو سره افغانستان ته ولاړ. برني ص ۶۸۸
البته برني هغه ټاکلي سیمه نه ښيي او یا یي نه سي ښودلای چي دی یي افغانستان بولي او شاهو افغان هغي سیمي ته تللی او خپلو افغانانو ته یي پناه وړې ده.
د احمدشاه بابا څخه څه باندي څلور سوه کاله مخکي، د مورخ ضیاءالدین برني په شهادت، افغانستان موجود دی خو حدود او ثغور یي معلوم نه دي. د افغانانو ټاټوبی معلوم دی او سیف هروي او برني دواړه په تقریبا یوه سیمه کي د افغانانو او افغانستان یادونه کوي مګر په هغه وخت کي د افغانستان سیاسي حدود معلوم نه وه.
افغانستان دغه اوسنی هیواد دی چي لوی احمدشاه بابا تاسیس کړی او یو وخت یي حدود له مشهد او نیشاپور څخه تر کشمیر او په جنوب کي د هند تر سمندر پوري رسېدل. وروسته یي د لمسیانو د بې کفایتیو، داخلي جنګونو او ایران، انګلیس او سیکهانو د دسیسو او یرغلونو له امله هغه سیمي هم له لاسه ورکړې چي له احمدشاه بابا څخه قرنونه مخکي د افغانستان په نوم یادېدلي او د افغانانو تاریخي ټاټوبی وو.

## ماءخذونه


۱: فردوسي، حکیم ابوالقاسم. شهنامه فردوسي. ۱۸۶۴ چاپ بمبیی
۲: حدودالعالم. مولف نامعلوم. چاپ کابل ۱۳۴۲
۳: اصطخري، ابواسحق ابراهیم. مسالک و ممالک. ۱۳۶۸ هجری چاپ سوم تهران.
۴: مقدسي، ابوعبدالله محمدبن احمد. احسن التقاسیم. ۱۳۶۱ چاپ اول تهران
۵- هروي، سیف بن محمدبن یعقوب الهروي. تاریخنامه هرات. چاپ افسیټ ګلشن. کلکته ۱۹۴۳
۶- برني، ضیاءالدین. تاریخ فیروز شاهي. (اُردو) مطبعه قیصر اکاډیمي حیدرآباد.
۷: کهزاد، احمدعلي. د افغانستان پخوانی تاریخ لومړی جلد. ۱۳۳۴ کال کابل.
۸: حبیبی، عبدالحی. تاریخ مختصر افغانستان. ۱۳۶۸ نشرات سازمان مجاهدین مسلمان افغانستان.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

۹: المنشی، محمودالحسینی. تاریخ احمدشاهی. د انش خپرندویه ټولنه. ۲۰۰۱.
۱۰: النرشخی، ابوبکر محمدبن جعفر. تاریخ بخارا. سال ۱۳۶۲، چاپ کابل.
۱۱: تاریخ سیستان. تهران ۱۳۶۶.
12: Forster, George. A Journey from Bengal to England. India 1997.
13: Elliot,S.M and Prof John Dowson. The History of India Vol 1 . 1990 Delhi.
14: Encyclopedia of Islam. 1986.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ